# په لرغوني يونان کې ژبنۍ څېړنې

پوهنوال شاه محمود کډوال
د ادبياتو او بشري علومو پوهنځی ، لغمان پوهنتون

**لنډيز**

لرغونی يوناني تمدن د نړۍ له تمدنونو څخه يو دی چې د وګړنيو پرمختګونو په لړ کې يوه ستره کړۍ ده. دلته د ژوند په بېلابېلو اړخونو ګټور بحثونه شوي دي چې موږ لا اوس هم سلګونه کلونه وروسته د هغوی تر اغېز لاندې يو او د هغوی له کاره ګټه اخلو ، سلګونه کلونه وروسته د هغوی کار زموږ د اوسنيو چارو او پرمختګونو پيلامه او مخبېلګه ده . هغوی په اخلاقو ، سياست ، ساينس ، ژبه ، ادب او هنر کې يا بنسټونه ايښي يا يې پياوړي کړي دي ، د دوی د څېړنو يو اړخ ژبه ده.
ژبه له هغه وخته موجوده ده چې د وګړو او ټولنې ژوند پېليږي. د وګړني ژوند تاريخ که له هر ځايه او هرې نېټې پيلوو ، نو ژبه هم له هغه وخته ژوندۍ ده. ژبه د وګړني پرمختګ ستر او اغېزناک بنسټ دی. د نړۍ ټول وګړني تمدنونه د هغو وګړو په وسيله رامنځته شوي چې ژبه يې لرله.

**کليدي نوموني** : ژبه ، ژبپوهنه ، ګرامر.

**سريزه**

ژبه د پوهونې د يوې وسيلې په توګه له وګړو او ټولنې سره تړلې ده ، ژبه هغه ښکارنده ده چې وګړو او پوهانو يې په اړه فکر کړی دی او په دې اړه يې څېړنې کړي دي.
ژبه دومره مهمه ده چې په الهي او اسماني کتابونو کې هم ورته نغوتې شوې دي ، د دې ترڅنګ وګړو او بشر هم مهمه بللې ده او تر ننه همه را رسېدلې ده [illegible] ويلای شي چې د نړۍ داسې هېڅ تمدن نه شته چې بې ژبې رامنځته شوی وي او يا تمدني چارو کې دې ژبه له پامه غورځېدلې وي !؟ د نړۍ په يو لرغوني تمدن ( يونان ) کې هم ژبه د پام وړ وه او په دې اړه مهم بحثونه شوي او څېړنې رامنځته شوې دي .

**ارزښت**

د ژبنيو څېړنو د تېر په اړه پوهېدنه د هر ژبڅېړونکي يوه مهمه اړتيا ده ، څېړونکی که اوس څېړنه کوي ، له تېر به ګټه اخلي او که نوښت کوي ، هم تېر به لولي. د اوسنۍ ژبڅېړنې زنځير تېر ته غځېدلی ، له تېر اغېزمن دی ، ځکه نو په تېر پوهېدنه يو ارزښت او اړتيا ده.



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

**موخه**

د دې څېړنې او ليکنې له لارې هڅه شوې ده چې د ژبڅېړنې تېر په لنډ ډول وړاندې شي چې په يوه ځاى ( يونان ) او وخت ( لرغوني ) کې د ژبې ، گرامر او ژبپوهنې څېړنيز بهير لوستونکو ته ورووپېژندل شي.

**پوښتنې**

١ ـ په لرغوني يونان کې د ژبڅېړنې څرنگوالى څه دول وو ؟

٢ ـ په لرغوني يونان کې د ژبڅېړنې څومره والى څه ډول وو ؟

**مواد او کړنلاره**

د دې څېړنې له پاره له شته باوري سرچينو گټه اخيستل شوې ده ، د څېړنې ډول يې کتابتوني او مېتود يې تشريحي – توصيفي دی.

د يونان د لرغونې دورې د پيل او پاى په اړه بېلابېل اثار داسې ليکي : د ( يونان د لرغوني ادب لومړى دوره ) په اثر کې د لرغوني ادب پيل ( ١٠٠٠ ق.م ) او پاى يې ( ٥٠٠ م ) ښيي ( ٥ : ١ ) . دا مو د دې له پاره وليکه چې د يونان د تمدن او ادب د تاريخ پيل راته يو ښکاري.

پارسي برېښنايي دايرة المعارف د يونان د لرغونې دورې پيل ( ٨ و ٦ ق.م ) پېړۍ ښيي چې په لرغونې اروپا ( ٦٠٠ م ) شاوخوا پاى ته رسېږي.

https://fa.m.wikipedia.org

همدارنگه انگريزي دايرة المعارف په دې اړه ليکي چې لرغونې يوناني دوره په ( ١٢- ٩ ق.م ) پېړيو کې پيلېږي او پر ( ٦٠٠ م ) پاى ته رسېږي .

https://en.m.wikipedia.org

په نړۍ کې د ژبنيو څېړنو د پيل په اړه په عام ډول بېلابېل نظرونه شته ، ځينې يې له توراته ( لومړى جز ـ د پيدايښت بحث ـ د آدم او حوا سورت ـ اتلسم ، نولسم او شلم آيتونه ) پيلوي چې هلته د ژبې په اړه بحثونه شته ، د دې ترڅنگ د نړۍ د لومړنۍ ژبې د موندلو له پاره په دوو کوچنيانو د فرعوني لړۍ د يوه واکمن پسامتيخوس ( ٦٠٠ ق.م ) شاوخوا تجربه هم د ژبنيو څېړنو څرک بولي چې دا پېښه هېرودت رانقل کړې ده ( ٧ : ٤٩ - ٥١ ). همدارنگه داهم ويل شوي چې د ( ٥ ق.م ) پېړۍ مشهور ژبور او د وينا او خطابې فن پوه گرگياس سيسيلي ( Gorgias from Sicily ) هم ژبنې بحثونه کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي ( ۲ : ۳۸ ). د دې ترڅنګ بل پوه چې پروتاګوراس ( Protagoras ) نومېږي هغه هم د ژبې په اړه بحثونه کړي چې ټول تر اپلاتون وړاندې دي .

پروتاګوراس (۴۹۰ - ۴۲۰ ق.م ) د مایاندریوس زوی دی. لومړنی او مهمترین سوفسطایي فیلسوف وو چې د یونان په ابدرای کې زېږېدلی او په (۴۵۰ ق.م) کې یې شهرت موند. پروتاګوراس د ګرګیاس هممهال وو او په یوناني ژبه کې یې لومړي ځل له پاره د جنس موضوع مطرح کړله ( ۷ : ٦٥ ) ، خو غوره او علمي نظر دا دی چې د ژبې په اړه علمي څېړنې له اپلاتونه راپیلېږي او لومړنی شخص اپلاتون وو چې د ژبې په اړه یې تیوري وړاندې کړله .

اپلاتون ( Platon ) پر ( ۴۲۷ / ۴۲۸ - ۳۴۷ / ۳۴۸ ق.م ) د یونان په اتن کې زېږیدلی دی ، د نړۍ د دریو مخورو فیلسوفانو ( سقرات ، اپلاتون او ارستو ) له ډلې څخه دویم فیلسوف دی ، دی لومړنی فیلسوف دی چې لیکلي اثار ترې پاتې دي ، ډېر نوموړی د تاریخ ستر فیلسوف بولي .

https://fa.wikipedia.org

اپلاتون د اتني فیلسوف کراتیلوس شاګرد وو چې هغه ورته په اتن کې د هیراکلیتوس ( ۵۳۵ - ۴۸۰ ق.م ) د فلسفې اصول ورزده کول ( ۸ : ۱۳ ).

د اپلاتون کورنۍ له سقرات ( Socrates )سره ژور اړیکي درلودل ، اپلاتون له وړکتوبه د ستر فیلسوف سقرات له پوهې برخمن شو ، د سقرات هغه پوهنیزه تګلاره چې زاړه او له کاره لویدلي خیالونه یې تر برید لاندې نیول ، د اپلاتون ډېر خوښ وو. هغه د سقرات سره بې کچې مینه درلوده ( ۱ : ۳۴ ). د پورتنیو اثارو له لیکلنو ښکاري چې اپلاتون  یوه خوا د سقرات او بله خوا د کراتیلوس او همداسې د هیراکلیتوس له پوهې په زنځیري ډول ګټه اخیستې ده.

اپلاتون په فکري او فلسفي اړخ کې له هیراکلیتوس او کراتیلوس اغېزمن وو چې دا اغېز د ده په نظریاتو کې څرګندېږي ، لکه د ژبې په اړه وایي چې کلمه زیربنایي صورت لري چې د هغې کلمې مانا په منظمه او روښانه توګه څرګندوي. اپلاتون په دې نظر وو چې ژبه طبیعي پدیده ده او د نوم او نومولي ترمنځ منطقي او طبیعي اړیکي شته ، صورت او لفظ د څیز له ماهیت سره تړون لري ( ۸ : ۱۳ - ۱۵ ).

د اپلاتون ژبني نظریات د ( کراتیلوس ) په نوم اثر کې څرګندېږي ، خو دا لا بشپړه څرګنده نه ده چې د دې اثر کومه برخه د سقرات او کومه د اپلاتون ده ( ۲ : ۳۸ ). د کراتیلوس او نورو اثارو منځپانګې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پام چې سقرات او اپلاتون دواړه پکې ګډون لري ، د ژبې په اړه دواړه د يوه نظر خاوندان بلل کېدای شي.

د کراتيلوس اثر چې په هغې کې د ژبې په اړه جالب بحثونه راغلي دي ، د دوو تنو د ډيالوګ په بڼه دی ، د ډيالوګ کرکترونه د سقرات او هرموګنس په نوم شخصيتونه دي ، د دې اثر ډېرې برخې د کلمې او جملې په مانا صدق کوي ، داسې چې سقرات پوښتنه کوي او هرموګنس يې ځوابوي او په پای کې سقرات بيا خپله خبره په هرموګنس تاييدوي ( ۳ : ۳۷ ).

د کراتيلوس په رساله کې کراتيلوس او هرموګنس ترمنځ مباحثه او مشاجره د ژوند او ژوند اړوند مسايلو باندې بحث کوي او سقرات د دوی ترمنځ دريمګړی يا منځګړی دی ( ۷ : ٦۲ ). په دې اړه پارسي برېښنايي دايرة المعارف داسې ليکي : ( کراتيلوس د يوناني فيلسوف اپلاتون له ليکلو شويو کتابونو څخه يو دی چې د سقرات ، کراتيلوس او هرموګنس ترمنځ په مرکه بحث کوي ).

https://fa.wikipedia.org

د اپلاتون ( ۴۲۷ / ۴۲۸ - ۳۴۷ / ۳۴۸ ق.م) کراتيلوس اثر ژبپوهان لومړنی لاسته راغلی علمي اثر بولي چې ژبنی څېړنې راپيلوي او د يوې تيورۍ او ښوونځي بنسټ ږدي ، که څه هم په تاريخي لحاظ پروتاګوراس ( ۴۹۰ - ۴۲۰ ق.م ) لومړنی شخص دی چې په يوناني ژبه کې د جنس مسله مطرح کوي او د ده ژوند او مشهورتيا زمانه (۴۵۰ ق.م ) بولي ، همدارنګه د ګرګياس سيسيلي ( ۴۸۷ - ۳۷٦ ق.م ) نوم چې د خطابې فن کې څېړنې کولې ، په لومړنيو پوهانو کې راځي ، خو په ټوله کې ( ۵ ق.م) پېړۍ د ژبنيو بحثونو پيل دی او د اپلاتون کراتيلوس لومړنی علمي ، تيوريک او منظم اثر دی.

اپلاتون لومړنی شخص دی چې د ژبې د ګرامر ځينې مهم اصطلاحات او تعريفونه يې وکارول ، هغه ليکي: کوم لفظ چې عمل څرګندوي ، فعل ( Rhema ) او کومه کلمه چې د عمل ترسره کوونکې وي ، نوم ( onoma ) دی ( ۸ : ۱۵ ). په دې ډول اپلاتون د جملې دوه مهمې برخې ( نوم او فعل ) چې يو د جملې مسنداليه او بل مسند رغوي په نښه کړل چې د نحوې بحث دی. وروسته د اپلاتون په نظرونو ولاړه ژبنۍ تيوري او ښوونځی رامنځته کېږي چې پنځپال ، طبيعيون ( Anologists ) يې بولي.

دا تيوري يا ښوونځی په دې نظر دی چې ژبه طبيعي ماهيت لري ، نو له همدې کبله د لغتونو مانا او منشاء د هغو په صورت کې پيداکولای شو ( ۹ : ۱۱۱ ). د يونان لومړني فلسوفان معمولا د پنځپالو يا طبيعتپالو په نوم يادېږي ، ځکه چې هغوی تر هر څه وړاندې طبيعت او طبيعي پېښو ته پاملرنه کوله ( ۱۰ : ۴۱ ).

(c) ketabton.com: The Digital Library

له اپلاتون وروسته د ده شاگرد ارستو هغه پوه دی چې د ژبې په اړه یې نظر څرگند دی. ارستو Aristotle ( ۳۸۴ - ۳۲۲ ق.م ) د یونان په ستاگیروس ښار کې زېږېدلی دی. په اته لس کلنۍ کې د اپلاتون شاگرد شو او شل کاله یې له هغه څخه زده کړه وکړه ( ۷ : ٦۹ ). ارستو که څه هم د اپلاتون شاگرد دی ، خو د ژبې په اړه یې نظر سره توپیر لري. ارستو وایي چې ژبه یوه ټولنیزه او قراردادي پدیده ده ، نه طبیعي. د نوم او نومولي ترمنځ طبیعي اړیکي نه شته او نه هم صورت د څیز له ماهیت سره منطقي او طبیعي تړون لري .

ارستو لومړنی مفکر دی چې د اپلاتون د کلمو او الفاظو ډلبندي یې پراخه کړله او د نوم او فعل ترڅنگ یې د رابطې Syndessmoi گرامري نومونه او اصطلاح هم دود او تعریف کړله چې د ده دا ډلبندي وروسته د کلام د اجزاوو په نوم مشهوره او معمول شوه ، ارستو همدارنگه کلام په مسند او مسندالیه وویشه ( ۸ : ١٦ ). په دې ډول ده هم په نحوه کې ونډه واخیستله. د ارستو د نظریاتو پر بنسټ وروسته د تړونپالو ، تړپالو او اتفاقیون Anomolists تیوري او ښوونځی رامنځته شو چې د عربۍ ، پارسۍ ، پښتو او نورو ډېرو ژبو گرامرونه د همدې تیورۍ پر بنسټ ولیکل شو او لا تر اوسه هم ژوندۍ ده .

د تړونپالو نظر دا دی چې د لغتونو او د هغو د ماناوو ترمنځ د رابطې پیداکول ، له هغه تړون یا قرارداد څخه سرچینه اخلي چې د وگړو ترمنځ شوی وي ( ۹ : ۱۱۱ ).

د ژبنیو څېړنډلو په لړ کې د رواقیون ( The Stoics ) یادونه هم مهمه ده چې له فلسفې څخه د گرامر د بیلتون له پاره یې هڅې کړې دي. دې ډلې د زنون ( Zeno ) د نظرونو پلیوني کوله چې ( ۳۰۰ ق.م ) شاوخوا کې یې ژوند کړی دی.

رواقیونو د یوناني ژبې د گرامر په تشریح کې داسې اصطلاحات وکارول چې هغه د نوم ، فعل ، د ربط حرف ، د تعریف حرف ، عدد ، جنس ، حالت ، د فعل وجه او د فعل صیغې اېډول دي.

د ( ۳ ق.م ) پېړي په لومړیو کې د مصر د سکندریې ښار د یونان د سترو فلسفي او علمي مرکزونو څخه د یوه په توگه راڅرگند شو. په دې ښار کې بېلابېل پوهان سره راټول شول او د یوه ستر کتابتون په رغولو سره یې د لرغونې زمانې پوهنتون رامنځته کړ.

سکندریان ( Alexandrian ) د هومر ایلیاد او اودیسي د قلمي نسخو سره مخ شول او دا چې د دوی له نظره سپېڅلې وې ، د نیمگړتیا او لاسوهنې نه د خوندیتوب له پاره یې د دې اثارو ژبنۍ یا گرامري سپړنه وکړه چې دغه ډول گرامرونه د قاعدوي ، دودیز او عنعنوي ( Normative Grammar ) په نوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادېږي. په سکندري ښوونځي کې د هومر د اثارو په اړه د څېړونکو په ډله کې یو مشهور ارستارخوس وو او نور یې هیرودین او اپولونیوس دیسکولوس وو ( ۸ : ۲۳، ۲٦ ) .
دیوینسیوس تراکس ( Dionysius Thrax ) چې د سکندریې کتابتون مشر او د ارستارخوس شاګرد وو ، له ( ۱۰۰ ق.م ) څخه وړاندې یې ژوند کړی او د یوناني ژبې لومړنی ګرامر یې لیکلی دی. دا ګرامر تخني ګراماتیکي ( Techne Grammatike ) نومېږي ( ۷ : ۷۸ ).
عنعنوي ګرامر چې په لویدیزه نړۍ کې رامنځته شو ، هغه ګرامر دی چې دیونسیوس تراکس ( ۲ ق.م ) په اروپا کې د ارستو د میتود ترڅنګ رامنځته کړ ( ۴ : ۵ ).
تراکس د یونان د سکندري دورې هغه عالم دی چې د یوناني ژبې د جوړښت په اړه یې لومړنی اثر ولیکه ، هغه د یوناني ژبې په دغه ګرامر کې د جملې اجزاوې په اتو برخو کې په مفصله توګه تدوین کړې ، د تراکس له دغه اثر څخه تر دیارلسو وروسته پېړیو پورې د یوه ماخذ په توګه کار اخیستل کېده ( ۷ : ۲۱۱ ).

اپولونیوس دیسکولوس ( Apollonius Dyscolus ) چې د ګرامر متخصص بلل کېږي ، په ( ۲ ق.م ) پېړۍ کې یې ژوند کړی ، د میستیوس زوی او په سکندریه کې زېږېدلی دی.
د دیوینسیوس تراکس ګرامر چې وروستیو پوهانو ته مخبېلګه شوه ، نږدې ټولو د هغه په شننه او کتنه وخت تېروه. د دوی ټولو په څېړنو کې چې ورته پام شوی نه دی ، د نحوې برخه ده چې دغې نیمګړتیا ته د اپولونیوس پام شو او د دغې برخې د بشپړونې هڅې یې کړې دي. که څه هم تر ده وړاندې په دې اړه لږ مواد وو ، خو اپولونیوس د نحوې په اړه منظمې څېړنې کړې دي. اپولونیوس زړې څېړنې وکتلې ، ځینې برخې یې بیا تعریف او په ځینو برخو کې یې نوښت وکړ. ده ډېره هڅه وکړه چې د صورت او مانا بیلتون ثابت کړي. د نوم او فعل پېژندل چې وړاندې شوي وو ، اپولونیوس دغې بېلونې ته په پام د جملې د نورو توکو ترمنځ پر اړیکو ټینګار وکړ او په دې اړه یې ډېرې څېړنې وکړلې ( ۷ : ۸۱ - ۸۲ ).

هرودیانوس ( Herodian ) هم په یوناني ژبه کې یو ګرامر ولیکه چې ډېر یې پکې د ژبې نازنځیري واحدونه څېړلي دی. د ژبې نازنځیري واحدونو ته یې په یوناني ژبه کې پروسودیه ( Prosody ) ویلې چې تر اوسه پورې هم دغه اصطلاح په ژبپوهنه کې دود ده ( ۳ : ٤٦ ).
هرودیانوس یا هیرودین د اپولونیوس زوی دی چې د یونان په سکندریه کې پر ( ۱۷۰ م ) کال زېږېدلی دی ، دی یو مورخ او د ژبې څېړونکی وو ، نوموړی د لیکنښو او عروضي توکو بنسټګر دی. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

زیروبمی ، بېلتون و پیوستون او له دغې لارې په کلمو او جملو کې د ماناوو پر اوښتون یې ژور بحثونه وکړل ( ۷ : ۸۳ ).

**پایله**

لرغونی یونان او هلته رامنځته شوی تمدن دومره څوارخیز دی چې هر اړخ یې د ډېرو خبرو او څېړنو وړتیا لري. په دې ترڅ کې ژبه ، گرامر او ژبپوهنه هم د دې تمدن په ستره غېږه کې ځای لري.

ژبه چې په وگړني پرمختگ او تمدن کې اغېزناکه ونډه لري ، لرغونو یونانیانو د دغې وسیلې په اړه بحثونه کړي او د ژبې بېلابېل اړخونه یې سپړلي دي ، د ژبې په اړه د څېړنو او بحثونو لومړنیو نوغو په یونان کې سر راپورته کړی او سوکه سوکه ستر ، پیاوړي او لوړ شوي دي ، خو که د لرغوني یونان لومړنۍ ژبنۍ څېړنې د لرغونې اریانا د سنسگریت ژبې او پاڼیني له څېړنو سره پرتله شي ، نو یوناني توصیفي او فلسفې بڼه لري او اریاني تشریحي.

د لرغوني یونان د هغه وخت فیلسوفانو چې د وگړني ژوند په بېلابېلو اړخونو بحث او فکر کوه ، ژبه هم ترې هېره نه وه. په دې توگه ویل کېدای شي چې د ژبې ، گرامر او ژبپوهنې په اړه د اوسنیو څېړنیزو لړیو او پرمختگونو بنسټگر لرغوني یونانیان دي چې دغه ډول څېړنو او بحثونو ته یې مخه کړله.

**مناقشه**

د یونان د تمدن او ادبي ـ ژبني بهیر په اړه پښتو کې گڼې څېړنې شته او په بېلابېلو اثارو کې ورته نغوتې شوې دي. دا لیکنه د نورو په پرتله د بڼې له اړخه لنډه ، خو د مانا له اړخه پراخه ده او هڅه شوې ده چې لوستونکو ته په کمو ټکو کې ډېر معلومات ورکړل شي.

**پایله اخیستنه**

د څېړنې موخه دا وه چې د یونان د لرغونې دورې ژبنۍ او گرامري څېړنې له څرنگیز او څومره ییز اړخه وپېژندل شي ، د دې موخې له پاره مو وغوښتل چې گټور او غوره معلومات په لنډه لیکنه کې ځای شي ، له دې کبله معلومات لنډ او له اوږدو ډډه شوې ده. د دې لنډې څېړنې نه په گټنې لوستونکي کولای شي ، د ژبڅېړنې پراخې نړۍ ته ورننوځي او بیا په لرغوني یونان کې ژبنۍ ـ گرامري څېړنې ، فلسفې او نظریې ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اخځونه**

۱ ـ ارين ، نويد . ( ۱۳۹۵ ش ) . د فلسفې لنډ تاريخ . کندهار : صداقت خپرندويه ټولنه .
۲ ـ حقشناس ، محمد على .( ۱۳۸۴ش ) . تاريخ مختصر زبانشناسي ( ژباړه ) . شپږم چاپ . تهران : کتاب ماد .
۳ ـ ذکي ، محمد ذاکر . ( ۱۳۹۴ش) . ژبه او ژبپوهنه . کابل : ملي تحريک .
۴ ـ رشتين زيور ، زرغونه . ( ۱۳۹۵ش ) . پښتو نحوه . ننگرهار : مومند خپرندويه ټولنه .
۵ ـ زړن ، جانس . ( ۱۳۸۲ش) . د يونان د لرغونو ادبياتو لومړی دوره . پېښور : ساپي د پښتو څېړنو او پراختيا مرکز .
٦ – شېرزاد ، محمد اقا.( ۱۳۹۵ ش ) . پښتو نحوه . جلال اباد : ميهن خپرندويه ټولنه .
۷ ـ مرهون ، محمود . ( ۱۳۹٦ش) . تاريخي ژبپوهنه . کابل : کاينات څېړنيز او ژباړې مرکز .
۸ ـ يمين ، محمد حسين . ( ۱۳۹۴ش ) . تیوری های زبانشناسی . کابل : انتشارات سعيد .
۹ ـ يون ، محمد اسماعيل . ( ۱۳۹۴ش) . کتاب الشعر او لس نورې مقالې . کابل : ملي تحريک .
۱۰ ـ يون ، محمد اسماعيل . ( ۱۳۹۴ش) . فلسفه او فلسفي بهير . کابل : ملي تحريک .

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**